# A look at the work of J - G - Larimer and G - A - Grierson in Waziri accent

# په وزيري لهجه د جې جي لاريمر او جي اې ګرئيرسن کار ته يوه کتنه

Ayatullah Khan Wazir*
Dr - Yousaf Khan**

**Abstract**

The Wazir are a huge tribe - They are living in various parts of the country as well as abroad, but their motherland is North Waziristan, South Waziristan and Sub Wazir Bannu - They all are speaking Waziri dialect - Though, there is some minor difference in their local accent - In this research paper, I have discussed the Waziri accent explain by the Western writer, such as J - G - Larimer and G - A Grierson - Both these writers have worked on Waziri dialect are hundred twenty years ago and still, their research is considered authentic and correct - I have briefly explained their work and hope it will be fruitful in the coming future -

جې جي لاريمر (جون ګورډن لاريمر)

## د لاريمر د ژوند حالات

پوره نوم ئې جون ګورډن لاريمر دے چې په لنډه ورته جې جي لاريمروئيلے کېږي - د شلمې پېړۍ محقق دے چې په وزيري لهجه ئې کار کړے - دې انګرېز وۀ او هند ته د دولتي خدماتو له پاره رالېږل شوے وۀ - ددې خدماتو په ترڅ کښې هغه يو څۀ زمانه وزيرستان کښې هم مامور پاتې شوے - جې جي لاريمر په ۱۸۷۰ء کښې د ګلاسګو په ښار کښې پېدا شوے - د دولتي خدماتو ترسره کولو په ترڅ کښې د وزيرستان انتظامي مامور په توګه وټاکلے شو، دغه دوران کښې هغۀ د پښتو وزيري لهجې په حواله خپل ستر څېړنيز

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Assistant Professor GPGC Bannu

کار ترسره کړو او په کال ۱۹۰۲ء کښې د وزيري لهجه او ګرامر مصنف په نوم ياد شو ـ

**د لاريمر د وزيرۍ ګرامر جائزه**

د پښتو ژبې ګرامر په حواله تر اوسه بېخي ډېر کم کار شوے خو له ښۀ مرغه د وزيري لهجې په حواله کار د پښتو د نورو لهجو په نسبت يو څۀ بيا دا خوشبختي ده چې د اې ډکشنري اف وزيري لېنګوئج کار و زيار د هم دې ليکوال له خوا شوے ـ وزيرۍ لهجه باندې پوهېدل ګران دي ځکه چې دا يوه فروعي لهجه ده اود پښتو د نورو لهجو په نسبت ځانته ډېرې ځانګړنې لري د پښتو معياري لهجې او وزيري لهجې په لغاتو او صوتياتو کښې کافي فرق دے ـ

د وزيرۍ لهجې ګرامر په حقله چې لاريمر څه ليکلي دي، هغه کښې ورومبے نوم يا (noun) دے، د نړۍ په هره لهجه کښې نرينه او ښځينه نومونه پخپل ځاے خپله پېژندګلي لري او د پښتو سره وزيرۍ لهجه هم په دې حواله پاتې نۀ ده لاريمر هم د نوم په حواله چې څه ليکلي دي هغه که وزيري نومونه دي او که د پښتو معياري لهجې نومونه دي د دواړو جنسونو قواعد يو شانتې دي هر کله چې د نرينه نوم اخيستے شي نو اخري تورے پکښې ساکت کېږي ـ

د نوم شمېر او حالت (NUMBER AND CASE)

په وزيرۍ لهجه کښې د شمېر هم هغسې دے کوم چې د پښتو په نورو لهجو کښې دے کوم يوګړ (واحد) او ډېرګړي (جمع) چې په دې نورو لهجو کښې وئيلے کېږي يا ليکلے شي يا د کوم نوم فاعلي او مفعولي حالت چې خپل ځان د قواعدو مطابق ښکاره کوي بلکل دغه شانتې د اسم واحد او جمع په اړه يا د نوم فاعلي او مفعولي حالت د پاره د وزيرۍ لهجې قواعد هم دي د شمېر او حالت مثال وړاندې کولو له پاره لاريمر يوه فقره ليکلې ده لکه :

''اې مو ټېل (فصل) ملخئ خواړلئي دائي'' ـ mo til melkhi khwaṛlai daie

د احمدزے او مسعود و لهجه په مطابق داسې راځي : mo tol pàsel melkhi khwalai - daie

''اې مو ټول پَصل ملخې خوړلئي دائي''

The locust has, eaten up my green crops - (1)

د معياري لهجې مطابق به داسې وي :

زما تهول فصل ملخو خوړلے دے۔

وړاندې شوې فقره کښې ''مو'' اسم ضمير شو ''تهپل/ تهول'' معنی ورکوي چې په معياري لهجه کښې ورته ''تهول'' وائي د شمېر او ''ملخ /ملخاے'' هم د يوحشرت نوم شو ''خواړلے'' مفعول شو، ددې فقرې جائزه په اوسمهال کښې وکړه شي نو د وزيري لهجې په معيار بلکل پوره ده بل د دې فقرې نه د لاريمر مقصد دا دے چې وزير واحد هم د جمع په ډول راوړي۔

د نرينه او ښځينه نومونو د ګردان (Masculine and Feminnine Declension) په حواله لاريمر ليکي چې د نرينه نومونو خاتمه په مصوتي يعني په خپلواك توريو سره نه بلکې په بېواك (consonant) توريو سره کېږي۔

Masculine nouns ending in a consonant .

او دلته ئې يوڅو مثالونه هم وړاندې کړي دي۔

دې پلوروروريا دې پلوره ورور۔

De plor vrör or De plora vrör (2)

دا پاسيني دواړو فقرو په معنی کښې فرق دے چې د يوې فقرې معنی د ترۀ ده او دا بلې ناسکه ورورده چې پلار ئې يو وي خو مور ئې بېله وي يعني مېرنے ورور ۔ د وزيرۍ لهجې په مطابق دې پلور ورور ترۀ ته وئيلے کېږي خو د لاريمر د دواړو نه يو مطلب دے چې د پلوره ورور د وزيرۍ لهجې په معيار پوره د ے ۔دلته که دا وګورې بيا خو پلور بلکل سم تورے دے چې په بېواك اواز يعني په / ر/ سره ئې ختمه شوې ده خو که په معناياتو ئې غور وکړې نو بيا ئې ختمه په خپلواك اواز يعني په / ه / سره شوې ده ۔

بلکې داسې لغات هم ډېر دي چې د هغو خاتمه يا خو په خپلواك اوازونو سره کېږي او يا ئې په ډفتانګونو سره شوې ده لکه :

کلاےkalāi چې په معياري لهجه کښې کلي ته وئيلے کېږي ۔

مَلّو maloچې مُلا ته وائي ۔

بعضې وخت دلاريمر نه په اوازونوکښې د معنوياتو په لحاظ غلطۍ شوې دي او د وزيرۍ لهجې نه سبوا پکښې دنورو لهجو اوازونه شامل کړي دي لکه دلته ئې د يو څو

نومونه ليکلي دي چې په هغو کښې يو نوم چې هندي کښې ورته "کنګن" خو په وزيرۍ کښې ورته "ځيلي" وئيل کېږي ـ لوريمر ورته "چيلي" ليکلي دي ،چې د مروتوالي لهجې طرز دے او د ښځينه نومونو ختمه په خپلواك توريو سره کېږي چې هغهٔ په دې ډول ليکلي دي ـ

Feminine nouns ending in –a or ā substantive –ĕ for the –a or –ā of the nominative in all the other cases ) -3)

د ښځينه نومونو مثالونه ئې په دې ډول راوړي دي ـ

خوله khwula

وزه wza

لاريمر يو بل لغات ليکلے دےچې د انګرېزي معنی ئې field يعني "ځمکه" ده او هغه تورے "وښکاے" دے ـ وزير ورته هېڅ کله هم وښکاے نه وائي بلکې په وزيرۍ لهجه کښې ورته "مزکه/مځکه" (mazakə) وائي، البته "واښهٔ" "ته" "ووشهٔ" وئيل کېږي - (4) لاريمردغه تورےد ختټکوالي لهجې نه راوړے دے ـ لاريمرپخپل کتاب "TheGrammar and Vocabulary of Wazir Pashto" کښې دغه شانتې اوازونه نورهم راوړي دي ، خوا هغه که د جنس په لحاظ سره نرينه نومونه دي يا ښځينه، خو په يو ښهٔ او ښايسته انداز ئې مستعمل کړي دي هغه که د ښاپېرو نومونه دي يا دځاے, ونو يا د مختلفو قومونو او يا ئې د ځناورونومونه دي،يوائې نومونه نه بلکې د هغوفاعلي او مفعولي حالت ئې هم د لهجې سره سم بيان کړي دي ـ ځينې داسې جنسونه شته چې هغه په وزيرۍ لهجه کښې مستعمل نه دي خو د وزيرۍ نورو ګاونډيو لهجو سره ئې ضرور تعلق شته لکه د مثال په توګه د وښکاےنوم د لاريمر د دې کتاب نوم که هرڅومره The Grammar and Vocabulary of Wazir Pashtoدے خو د ګاونډۍ لهجې قواعد او اوزونه هم پکښې په کثرت سره موندل کېږي ـ لاريمريوبل نوم ليکلے دے چې په وزيرۍ لهجه کښې ورته "وَزر"وائي او انګرېزي معنی ئې wings ده خو دلته لاريمرورته (پر) ليکلي دي چې کله هم په وزيري کښې دود نهٔ دے ـ د لاريمر سره په دې قاعده کښې د معنوياتو په لحاظ خو اختلاف کېدے شي خو د قواعدو په بنياد هغهٔ چې د وزيرۍ لهجې واحد او جمع په حواله سره څه ليکلي دي په هغه کښې د تېروتنې امکان کم دے ـ دې ګردان کښې د

ښاغلي لاريمر سره چې کوم اختلاف شوے دے هغه هم د معنوياتو په لحاظ زيات او د قواعدو په حواله کم دے ۔

د ندائي حالت (vocative case) د نورو ژبو په شانتې په پښتو ژبې کښې يوه قاعده ده چې لاريمر په وزيرۍ لهجه کښې په تفصيل سره بيان کړې ده ۔ دا په هغه وخت کښې استعمالېږي کله چې يو سړے چا ته مخامخ وي او اواز ورکوي لکه:

''وو سړيه يا وو ځوونه''

که د لاريمر په ليك فکر وکړے شي چې هغۀ په وزيرۍ لهجه کښې د ندائي حالت په حواله سره راوړے ، نوبېخي د وزيري لهجې قواعدو په معيار پوره دےاو هېڅ غلطي پکښې نشته ۔

لاريمرد صفتي نومونو (adjective noun)او د هغوي د ښاخونو په حواله سره ليکلي دي چې:

The adjective of quality aggress with the substantive it qualifies in gender, number and case, and has consequently eight forms ۔ (5)

او دغه اتو واړو خاتمه په مختلف اوازونو سره کېږي په بعضې ځايونو کښې په خپلواك اواز سره او په ځينو ځايونوکښې په بېواك اواز سره شوې ده ۔ د لاريمر په د اوازونو او لغات کښې هم ځاے په ځاےتېروتنه شوې ده خو بيا هم د ښاغلي کار په معيارپوره دے په دې کښې که د يوګړي (واحد) يا ډېرګړي (جمع) توريواستعمال په يو ښايسته ډول شوےدےچې دا کار د لاريمر په کتاب کښې په صفحه نمبر۹ او ۱۰ په تفصيل سره موجود دے ۔

په مقايسه (مماثلثي) صفتي (comparison) نومونه کښې ئې د ډېرګريو په حواله سره مختصرليکوړاندې کړےدے چې په انګريزي ژبه کښې ورتهcomparative او superlative ډګري وئيلې شي او په پښتوکښې ئې معنیٰ تفصيل بعض او تفصيل کل ده چې لاريمر په مختلف مثالونوسره ليکلي دي د مثال په توګه:

شه ʃə

په.......... نه شه... na ʃə..pə

په غونډ نه شهʃə payond na ʃə (6)

حتیٰ چې د شمیر په عددونو کښې ئې هم د نرینه او ښځینه تفصیل بعض او تفصیل کل په یوښۀ ډول پېژندګلي کړې ده ۔

The pricipal adjectives of this class are the numerals,cardinal and ordinal -

یو (نرینه) یوه (ښځینه)

دوه (نرینه دوې (ښځینه)

داسې نور ډېر عددونه چې هغۀ په صفحه نمبر ۱۳ په تفصیل سره موجود دي ۔ (7)

ښکاره یا ظاهرکونکي صفتي نومونه (Demonstrative Adjectiv) دا هغه صفتي نومونه دي چې د سړي، ځاے او یا د یو څیز واحد یا جمع اړخ ته اشاره کوي او په شمېر کښې دغه څلور دي د مثال په توګه:

هغه (واحد) هغوي (جمع)

دا/دغه (واحد) دوي (جمع)

لاریمر ئې مثالونه په دې ډول وړاندې کړي دي ۔ داے، دا یا دغه، آ، آغه یا هغه او کیم(8)

په هره ژبه کښې معکوسي ضمیرونه(reflexive pronoun) او پوښتونکي ضمیرونه (interrogative pronoun) موجود دي، چې په وزیري لهجه کښې ئې هم لاریمرلیک کړےدے ۔ معکوسي هغه ضمیرونه دي چې د کار په ختمېدو کښې ځان له اشاره شوې وي او لاریمر هغه مثالونه په دې ډول لیکلي دي ۔

ما پخپله

تا پخپله

بل پوښتونکي ضمیرونه هغه ضمیرونه دي چې په هغه کښې د څه ځاے څیز یا د نوم په حواله سره پوښتنه شوې وي دا هم په تعداد کښې څلور دي چې په دې ډول دي :

څېك/څوک (واحد جمع)

چېرته

څۀ

څومره

دضميرونوخاتمه ئې په متعلقه اسم ضمير(relative pronoun) او غېرمتعلقه ضميرونو (indefinite pronoun) سره کړې ده د متعلقه ضميرنو په حواله سره لاريمر ليکي چې دغه ضميرونه په وزيرۍ لهجه کښې نشته د لاريمر وينا سره اتفاق کول پکار دي ځکه چې دا هم د پوښتونکي ضميرونو يو قسم دے . دغه شان غېر متعلقه ضميرونه هم دي چې په دې کښې د عموميت وېنا کېږي د مثال په توګه:

يو کَس(کاس) روشئ-

دا غونډ چېرې لوړل؟

چې څېك / څوک وي .

دا هم د وزيرۍ لهجې په معيارپوره دي او بل دغه د لاريمر په کتاب کښې په صفحه نمبر ۱۲ او ۱۷ښئ په وضاحت سره بيان شوي دي.

او د فعل نورو قسمونوډلبندي په حواله تفصيلي بحث (verb)د دې نه پس لاريمر د فعل کښې د فعل څلور ښاخونه په دې لاندې ډول ښودلي دي . لهجې وزيرۍ کړےدے . هغهٔ په

TheWaziri verbs may be divded into four classes (1) Auxiliary - (2) Simple - (3) Compound - (4) Substantive - (9)

چې د پښتو په معياري لهجه کښې ئې هم شمېردومره دے په هره يوه زمانه کښې په خپل مناسبت سره فعل وړاندې کېږي په وزيرۍ لهجه کښې ښاغلي لاريمر دغه فعلونه وړاندې کړي دي او د فعلونو تړون ئې د هرې زمانې سره په خپل ځاے او په سم ډول استعمال کړي دي ، يواځې دا نه بلکې هرې يوې زمانې ښاخونه ئې په مثالونوسره بيان کړي دي .

حرف ربط (The Preposition) هم په هره ژبه کښې د ګرامر يوه برخه ده دې سره په جمله کښې د وخت،کال او صدۍ پېژندګلي کېږي دحرف ربط دوه قسمونه دي د وخت په لحاظ سره، او د حرف ربط (سربل) توري ئې پکښې واضح کړي دي چې په دې ډول دي .

bondi or pa… - - bondide…… - - deporaKara or de… - - kara (10)

بيا ئې د (Conjucagtion) استعمال راوړےدےاو هغه طريقه ئې ښودلې ده چې فعل په مختلفو زمانو کښې څرنګ اوړي يا ئې تصريف کېږي .

په (Conjugation) کښې ورومبے حرف عطف او بیا حرف فجائیه هم د پښتو ژبې او لهجو ضروري برخه ده، په حرف عطف توریو سره د جملو په خپله کښې جوړښت پیدا کېږي او حرف فجائیه هغه توري دي چې د غم یا خوشحالے په وخت د خولې نه وځي۔
دلته لاریمر په وزیرۍ لهجه او ګرامر باندې چې کوم کار وړاندې کړے دے دومره واضح دے چې ورته په تنګ نظري سره کتلو خوسوال هم نۀ پیدا کېږي ځکه چې په کوم ښایسته ډول و اندازاوطریقه کار چې هغۀ د وزیرۍ لهجې په حواله کومه څېړنه مخې ته راوړې ده ، هغه داوسني وخت وزیرۍ لهجې سره په قواعدو او معنویاتو کښې بېخي لږ فرق دے ۔

**د لاریمر وزیري لغات**

لاریمریو شمېر وزیري لغات مخې ته راوړي دي خو په دې لغاتوکښې داسې توري هم مخې ته راځي چې هغه په وزیرۍلهجه کښې شته خو استعمال ئې په مختلف ډول کېږي خودا ده چې دا سیمیز لغات دي چې د کرلاڼ ګروپ لهجې سره تعلق لري ۔
د ګرئیرسن سوانح عمري او د هغه په وزیرۍلهجه دکارجائزه

**ګرئیرسن**

پوره نوم ئې جارج ابراهام ګریرسن (George Abraham Grierson) دے چې په ادبي دنیا کښې په جي اې ګئریرسن پېژندلے شي ۔ دجنورۍ په اوومه نېټه او په کال اتلس سوه یو پنځوس (۷ جنوري ۱۸۵۱ء) ډبلېن(Dublin) دے چې د ائرلینډ (Irelan) یو ښکلې او ښایسته ښار دے ، پیدا شوے ۔ (11)
ګرئیرسن په هندکښې انتظامي افسر وۀ خو د لسانیاتو زده کړې سره ئې بېکچه مینه وه ځکه خو ئې په هند اریائي اوهندیورپین ژبو یو جامع کارکړے ۔ کله چې هغه بنګال (Bengal)او بیا بهار(Bihar) ته بدل شو، نو د خپل انتظامي کار کولو سره ئې د ژبو مطالعه هم کوله چې په دېوخت کښې ئې یوشمېرروزنامچې او کتابونه ولیکل او بیا ئې چاپ کړل- په کال اتلس سوه شپږ اتیا (۱۸۸۶ء) کښې د اورینټل کانګرس (Oriental Congress)له طرفه د لسانیاتو یوه لویه سروې وشوه او د هغې نه پس د ژبو راغونډولو له پاره مختلف تجویزونه پېښ شول خو هرکله چې ګرئیرسن کال اتلس سوه اته نوې

(۱۸۹۸ء) کښې د کانګرس په سفارش د هندوستاني لساني سروې محکمې له خوا سپرنټينډنټ وټاکلے شو ، هغهٔ دا کار تر نولس سوه دوه کم دېرش (۱۹۲۸ء) پورې جاري وساتلو، په دا وخت کښې د هندوستان سره تړلې ټولو سيموسروې ئې وکړه او بيا ئې د هغو لهجوخصوصي دستاويزات جوړ کړل او د مختلفو لهجو غړونه ئې ريکارډ کړل او د کتابونو په صورت کښې ئې وليکل چې تقريباً يوسل يو کم اتيا (۱۷۹) ژبو معلومات په پوره ذمه واري سره د دستاويزاتو په شکل کښې مخې ته راغلل. د مکمل تحقيق نه پس معلومه شوه چې دغه ژبې په پينځه سوه څلور څلوېښت لهجو باندې مشتملې دي او بيا ښاغلي ګرئيرسن په نولس (۱۹) جلدنو مشتمل يوکتاب ترې سازکړو . د دې کتاب په يو جلد کښې ئې د پښتو ژبې او د هغه مختلفو لهجو حال هم راوړے.د هغهٔ د دې کتاب نوم Linguistic Survey of India دے او د لسانياتو زده کونکي ترې نه استفاده اخلي .

**د ژبو په حواله سره د ګرئيرسن هلې ځلې :**

په کال اتلس سوه شپږ اتيا (۱۸۸۲ء) کښې په ويانا (Vienna) ښار استريا کښې د ګرئيرسن په صدارت کښې د ايشائي ژبو په حواله سره يوه لويه غونډه وشوه او دا نظريه ئې وړاندې کړه چې د هندوستاني ژبو د سروې له پاره يو دستور جوړ کړےشي چې د هغه له پاره ګرئيرسن سفير وټاکلے شو او ډاکټر ډوکا ،لکوپېرائي،او ارسيکوسټورسره مرستيال شول - دغه ټولنې دا فېصله وکړه چې د شلو نه واخله تر دوه نيم سوه پورې هندوستاني ژبو چې هره ژبه خپل ځان له وجودلري او د بلې ژبې سره ئې مطابقت ډېر کم دے د پاره يو قرارداد وړاندې کړے شو چې حکومت هندوستان دې خامخا دې ژبو په حواله يوه منظمه سروې شروع کړي په دې باقاعده دستخط وکړے شو چې په هغه کښې کارل بوهلر،مکسمولېر،مونائرويليمزاو په خپله ګرئيرسن هم موجود وو،دا سفارشات د هغه وخت حکومت ته وړاندې شول او په کال اتلس سوه اته نوي (۱۸۹۸ء) کښې ګرئيرسن دې کار له پاره چيرپرسن سپرټينډنټ وټاکلے شو د سروې مطابق د سرکاري حکام له اړخه کلي په کلي د هرې ژبې او لهجې مواد راغونډولو د پاره ټولنې جوړې شوې . مختلف ژبني مواد راغونډولو د پاره ټولومرستيالو ته فارمونه او معلوماتي مواد سپارل شوي وو چې د هرې يوې ژبې وضاحتي بيانونه راټولول وو . دغه فهرستونه او فارمونه په کال اتلس سوه شپږ شپته (۱۸۲۲ء) کښې جارج کيمبل ساز کړي وودا چې په کوم ترتيب سره جوړ شوي وو

په هغه کښې ضميرونه، نومونه او د اوسمهال، تېرمهال او راتلونکي مهال فعلونو د پاره خانې جوړې کړل شوې وې ـ کله چې درجه بندي وکړے شوه نومعلومه شوه چې يوکم دېرش کروړه (۲۹۰۰۰۰۰۰) خلق د دې ژبو وينونکي موجود دي ـ په نولس سوه (۱۹۰۰ء) کښې گريرسن د يوريپن لائبرېريو او مختلفو پوهانو نه رايه اخستلو له پاره اينگلېنډ ته لاړو او دغه کار راغونډولو د پاره ئې ملازمت پرېښود او دې مهم ته ئې ځان وسپارۀ ـ اخرهغه دغه تاريخي کار د مئ مياشتې په اتمه نېټه نولس سوه دوه کم دېرش (۸ جنوري ۱۹۲۸ء) کښې سر ته اورسولو ـ

گرئيرسن زيات تر کار په لسانياتو باندې کړےدے، چې ايفډبليوتهاسن او-ار-ايلټرنر په کتابي شکل کښې چاپ کړے دے چې د هغه د ژوند يوه لويه خوشحالي حسابېږي او نن هم په منظم انداز کښې په يولوے ميوزيم کښې دهندوستاني ژبې دا کارد علم نباتات حېثيت لري - (12)

## د وزيرى لهجې په حوالهدگرئيرسنکارجائزه :

گرئيرسن دوزيرۍ لهجې په حواله ډېر لږ کار وړاندې کړےدےڅومره چې وزير قبيله لويه ده هومره د هغه لهجې په حواله د هغۀ کار هر کله څۀ هم دومره زيات نۀ دے خو بيا هم د ستائنې وړ بلل کېدے شي ـگرئيرسن د وزيرۍ او د نورو کرلاڼيو لهجو د خپلواك توريو اوازونه يو بل ته نږدې شمارلي لکه چې هغه ليکي ـ

The pronunciation of the vowels closely resembles that Bannuchi pashto .

ژباړه: ''خپلواك اوزونه ئې بنوڅۍ لهجه ته ورته والے لري.'' (13)

وزير په سلهاو مربع کلوميټراباده قبيله ده، څومره چې دغه سيمه ارتوالے لري دغومره ئې لهجه وسيعه ده ـ په ځينو گاونډيو لهجو ددې اثر او د ځينو په دې اثر شوے ـ داسې ډېر توري چې دغې يوې قبيلې خلق ئې بېل اداکوي او په معياري لهجه کښې بل نمونه ادائيگي لري ـ مثلن لکه ''کښې'' چې احمدزي(مېداني ، حسن خېل)او محسود قبيله ئې"شې يا کشې"وائي خو دغه تورےدمعياري لهجې په ډول اتمانزے وزيرو لهجه کښې او هم د احمد زيو په کالوخېلولهجه کښې (کې) وئيل کېږي، خو په اتمانزيو کښې جاني خېل ، توري خېل او بوراخېل بيا دغه د احمدزيو د حسن خېلو يا سن خېلو او محسودو په څېر (کې) نۀ وائي بلکې (کشې يا شې) وائي ـ بل پکښې د /ف/او /پ/ اوازونه دي چې دغه اوازونه په

معياري لهجه کښې هم شته او ټول پښتانۀ د /ف/ اواز نۀ شي ادا کولے د مثال په توګه /فقير/ ته /پاکير/ وائي -

ګرئيرسن د وزيرۍ لهجې په حواله ډېرې په زړۀ پورې نمونې وړاندې کړې دي، خوهغۀ چې کومې دوې نمونې وړاندې کړې دي اودکوم چا وينائې کړې ده هغه ئې د ډاکټر پينل او لاريمر د کتاب نه راخيستې دي، اوس هم د وزيرو او بالخصوص د اتمانزے قبيلې وېنا په هم هغه ډول ده څۀ ډول چې ګرئيرسن په خپل کتاب Linguistic survey of India په لسم نمبر جلد کښې د صفحه نمبر ۹۲ نه واخله تر صفحه نمبر ۱۰۵ پورې ښودلې ده - چې په رومن ټرانسکرپشن کښې هم ليکلې شوې دي -ګرئيرسن د ډاکټر پينل کوم اقتباس چې وړاندې کړے دے په هغه کښې يونيم ځاے دخپلواک اوازونواومعنوياتوتېروتنه شوې ده، هغه يو ځاے ليکلې دي -

''ملك ته روان شو'' mulk ta rawān shū̃

حالانکه وزير اتمانزي په خپله لهجه کښې ورته ''مُلك''/mulk/نه بلکې ''مَلك'' /malk/ وائي، او بل ''شو''/shū̃/هېڅ کله نۀ وائي بلکې د ''شۀ'' /ʃə/ تلفظ ادا کوي، البته داوړ ''شو'' /shū̃/وائي -

بل ځاے کښې ليکي-

''چې خپل پلور وليدو'' cha akhpul plōr wuldu - (14)

دغه تورے په هر دوه صورته استعمالېږي"وليدو" او هم دې نه علاوه زياتره"ولدۀ"/waldə/ - داسې ښکاري چې T.Dr - L Pennel دغه او ځينې نورې نمونې د داوړولې لهجې نه راخيستې دي - بل دګرئيرسن په کتاب کښې Lingustic survey of Indiaپه لسم جلد صفحه نمبر ۹۹ او ۱۰۰ د لاريمر په وساطت سره ليکلے شوې ده چې هغه د وزيرۍ لهجې په معيار پوره دي - ګرئيرسن د ډاکټر پينل يوه بله وېنا وړاندې کړې ده چې په هغه کښې د خپلواك توريو فرق نه پرته تاريخي اختلافات هم شته او د خپلواك اوازونو فرق په هغه ډول دےکوم چې تېر بحث کښې ښودل شوے - لکه يوځاےهغه ليکي چې :

''بيا ليلو مړوکو'' bia lailo maṛ wako (15)

د جمله سمه نۀ ده بلکې دوزيرۍ لهجې په مطابق دا داسې پکار ده :

"بیا لیلو مړوکۀ" biā lailo maṛ wakə

بل ځاے ئې لیکلي دي : "وَ دِ میسي دوه زامن خو وه یو احمد نمیدۀ- بل اتیمن نمیدو ـ "
di misi dwa zamən xo wi yo ahmad namedo, bal atimon namedo - (16)
"نومېدو" کښې دا /و/ راوړل سم نۀدي دلته به د /ۀ/ راوړل اواز راځي ـ (خو باید یاد وساتو چې دا هغۀ د دواوړوالي لهجې په دود راوړي او داوړ واله لهجه هم د وزیري لهجې په دود ده) ـ د تاریخ غلطۍ نه مقصد هغه نومونه دي چې هغۀ خپل اقتباساتو کښې وړاندې کړې دي، هغه لیکي چې دې وزیرځلورزامن وو او نومونه ئې په دې ډول ښائیلي دي، یو لیلو، بل میسي بل عیسي او بل لائقو ـ خو دا چېرته هم ثابته نۀ ده ـ بلکې د وزیر دوه زامن وو د یو نوم خدرے وۀ او بل لالے وۀ ـ دې نه علاوه ګرئیرسن دې ګړدود طرز ته دضلع بنودلهجې نمونې نه وئیلي دي، خو د هغۀ دغه خبره سمه نۀ ده ځکه چې په ضلع بنو کښې د وزیر بېله بېلې قبیلې لکه جاني خېل ، بکاخېل، حسن خېل (هتي خېل،مهمندخېل،سپرکه ، سېدخېل ،سرکي خېل)اود کالو خېلونه بیزان خېل او سپرکه په کثرت سره اباد دي ـ ددغو قبیلو خپل منځي کوم خاص فرق نۀ شته البته د "کې ، کښې یا شې" او یو نیم ځاے واو مجهول فرق لري ـ

د ډاکټر پینل نه پس ګرئیرسن د لاریمرکتاب نه ئې هم یو څۀ نمونې وړاندې کړې دي او دغه نمونې ښاغلي لاریمر په هغه وخت کښې لیکلے دي کله چې هغه وزیرستان کښې پولټیکل افسر وۀ- وړومبے خو ئې په دې سیمه کښې د میشتوخلقود ابادي په حواله سره وېنا کړې ده د هغې نه پس ئې د هغوي ابادي ښودلې ده چې په هغه کښې درویش خېل وزیراومحسود شامل دي ـ د لاریمرکتاب "د وزیرۍ ژبې ګرامراو ذخیره" په بنیادګرئیرسن چې کوم لیک کړے دے هغه اوډاکټر پینل په لیک کښې کوم خاص توپیر نشته ـ د وزیرۍ لهجې په حقله د هغه جائزه ده چې دغو دواوو ښاغلیو مستشرقینو په حواله سره وړاندې شوه یقینن چې دا هغه مستشرقین دي چې د فخر وړ دي په یوه غېره ژبه یا لهجه دغې شانتې کار وړاندې کول څه معمولي خبره نه ده دا ډېر لوی همیت غواړي چې یقینن په هغوي کښې موجود وو ـ

روخونه د ئې ښاد وي- امین

# References

1-I – C – S, J – G – Lorimer and Vocabulary Waziri Pashto, published Superintendent of Government printing, India,Calcuta,1902, P: 2

2-Ibid P: 2

3-Ibid P: 6

4-Ibid P: 4

5-Ibid P: 9

6-Ibid P: 12

7-Ibid P: 14

8-Ibid P: 16

9-Ibid P: 17

10-Ibid P:25

11-https://en - wikipedia - org/wiki/George_Abraham Grierson

12-Ibid

13-G – R – Grierson,Sir,Linguistc Survey Of India Vol – x – , published Superintendent of Government printing,India, Calcuta,1921, P:91

14-Ibid P: 92

15-Ibid P: 95

16-Ibid P:95